استاد عبدالرحیم صراف د ننگرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي پخوانی استاد دی. د افغانستان د روانو چارو په اړه ژوره مطالعه لري. ژمن ورسره د هېواد د روانو حالاتو په اړه مرکه کړې.دلته يې بشپړه مرکه لوستلی شئ.

ژمن: استاده! ټاکنې وشوې. میلیونونه خلکو رایې ورکړې؛ خو حکومت ورته جان کېري وټاکه، اوس جان کېري دوه کلن نظام پنځو کلونو ته وغځاوه. که چېرې لویه جرګه جوړه نشي، اوسنی حکومت دوام کولی شي؟

صراف: بسم الله الرحمن الرحیم:کله چې حکومت جوړ شو او د ټاکنو کمېسیون خلکو ته څوکۍ اعلان کړې، له هماغه ورځې ګډوډي پیل شوه. د ټاکنو د کمېسیون دنده د ټاکنو اعلانول دي؛ خو دوی خلکو ته څوکۍ اعلان کړې، چې اشرف غني يې ولسمشر او عبدالله يې اجراییه رییس اعلان کړ. د ټاکنوکمېسیون د څوکیو د اعلانولو واک نه لري، بلکې دوی د ټاکنو پایلې ملت ته اعلانوي. په اساسي قانون کې اجراییه ریاست نشته، خو دوی پکې ځای کړ.په ټاکنو میلیونه ډالر لګنبت وشو، افغانان پکې مړه شول؛ خو حکومت زموږ په خوښه نه، بلکې د جان کېري په خوښه جوړ شو.مخکې یوه اوازه دا هم وه، چې عبدالله عبدالله به لومړی مرستیال کېږي او دوستم به مارشال یا د دفاع وزیر شي؛ خو جان کېري دغه دوه کلن تړون پنځو کلونو ته وغځاوه او پاتې درې کاله به حکومت په همداسې ضعیف شکل سره روان وي.

که احیاناً لویه جرګه جوړه شي، هغه به هم یوه فرمایشي جرګه وي. په لویه جرګه کې به هغه خلک وي، چې څه ورته ویل شوي وي، هماغه به وواییي. اساسي قانون کې به تغیر راولي او عبدالله به په قانوني ډول اجراییه رییس کړي. موږ تېره جرګه « له امریکاسره د امنیتي تړون» په باره کې ولیده، چې څوک تللي وو؟ هغه خلک تللي وو، چې د امریکایي ګټو لپاره یې خبرې کولې. کېدای شي ځینې ښه خلک هم پکې وو؛ خو د هغوی خبره چا نه اورېده.

اوس تاسې وګورئ، چې زیاتې څوکۍ تشې دي. علت یې د اشرف غني او عبدالله ترمنځ اختلافات دي. د اشرف غني کس عبدالله نه مني او د عبدالله کس اشرف غني نه مني. که چېرې دوی پنځه کاله دوام وکړي، نو هېواد ته ښه ډالۍ نه لري، بلکې هېواد به مو له سختو ستونزو سره مخ کړي.

ژمن: صراف صاحب! د اوسني ګډ حکومت په منځته راتګ وسله وال مخالفین قوي شول. ډېرې ولسوالۍ یې ونیولې او خبره د ولایت تر سقوط ورسېده. که چېرې اوسنی حکومت په همداسې ضعیف شکل سره روان وي، ایا اوسنی حکومت به خپله پنځه کلنه دوره پوره کړي؟

صراف: د اوسني حکومت بد چلن خلک طالبانو ته ورنږدې کړل. طالبانو مخکې له خلکو سره عادي چلند کوو؛ خو اوس یې چلند« په هغه سیمو کې چې طالبان پرې واکمن دي» د حکومت کولو چلند ته اوښتی دی. خلک خپلې فیصلې اوس په حکومت نه، بلکې په طالبانو کوي. په حکومت خلک طالبانو نه دي بې اعتباره کړي، بلکې حکومت پخپله ځان بې اعتباره کړی دی. په حکومت کې که له یوه ښوونځي بل ښوونځي ته بدلون پانه ورېږ، نو یوه اوونۍ وخت پرې لګیږي. دا یوه عادي خبره ده، که چېرې دې د یو کس په قضا او څارنوالۍ کې کار بند شي، نو هلته خبره بیا بیخي بل ډول ده. دغه ډول چلند د عامو خلکو په منځ کې د طالبانو محبوبیت زیات کړ، ځکه طالبان خپلې فیصلې ژر کوي او د حکومت په څېر خلک نه په عذابوي.

د حکومت دننه د ځینو چارواکو استعفاوو هم خلک په حکومت بې باوره کړل. د کورنیو چارو وزیر، د ټاکنو د کمېسیون او د کانونو د وزیر استعفاوو خلک په حکومت بې باوره کړل او خلک یې طالبانو ته ورنږدې کړل. په طالبانو کې یو قومانده ده، یوه خبره ده او تر ډېره ځایه له فساد څخه خالي دي.

اوس د هلمند د سقوط اوازه ده او داسې هم ویل کېږي، که چېرې هلمند سقوط وکړي، د طالبانو لپاره به یو ادرس شي او ډېر طالبان به هلمند ته راشي. د اوسني حکومت ضعیف مدیریت تر شاه کېدای شي بهرني لاملونه هم وي؛ خو په حکومت کې دننه فساد هم ډېر دی. د حکومت د ضعیف مدیریت لامله خلکو په حکومت خپل باور د لاسه ورکړی او د طالبانو تله درنه شوې ده.

ژمن : استاده! د اوسني حکومت په منځته راتګ بې کاري زياته شوې. په بې کاره ځوانانو کې زيات لېسانس، ماسټران او حتی P.HDلري، خو بيا هم بې کاره دي. زرګونه ځوانانو هېواد پرېښنو او په سختو لارو يې ځانونه اروپا ته ورسول. ځوان قشر په ډېر بدحالت کې دی. دغه ډول حالت د هېواد  راتلونکې ته څومره په زيان بولئ؟

صراف: بې کاري يوه بُنيادي قضيه ده. دلته په زرګونه ځوانان چې لوړې زده کړې لري، بې کاره دي.تر دوه سوه ډېر ځوانان چې اروپا ته تللي زيات يې تعليم يافته قشر دی. څو ورځې مخکې يو تلويزون يو ځوان سره مرکه کړې وه، هغه کس په اقتصاد کې ماسټري لرله؛ خو د بې کارۍ له امله پوډري شوی و.په حکومت کې اوس هم په زرګونه خلک تقاعد شوي؛ خو بيا يې هم له خپلو دندو لاس نه دی اخېستی. زړو مامورينو سره د نوښت کوم فکر نه وي، دوی اوس هم مکتبونه د عينکو په زور لولي او ليکي.يو ځوان چې په سختو شرايطو کې خپلې زده کړې وکړې؛ خو د واسطې د نشتوالي له امله يو دولسم پاس مقررېږي؛ خو هغه پاتې کېږي. لوستي ځوانان تر ډېره حده رشوت نه ورکوي، ځکه دنده خپل حق بولي. په حکومت د ځوانانو بې باوري ورځ تر بلې ډېرېږي. که چېرې کوم سپين ږيری بې باوره شي، هغه څه نشي کولی؛ خو که ځوانان بې باوره او زړه ماتي شي، د ځوانانو د لاسه هر څه پوره دي او هر څه کولی شي. زموږ د ټولنې ۷۰ سلنه ځوانان دي او دغه لوړه سلنه ځوانان مو هېواد ته په ګټه دي. په حکومت کې اوس هم داسې خلک شته، چې ځلوېښت نه تر پنځوسو کلونو پورې يې ماموريت کړی؛ خو بيا هم په خپلو څوکيو ناست دي. حکومت دې د خدمت دوره رالنډه کړي. د خدمت دوره دې ديرشو څخه پنځه ديرش کلونو پورې کړې، که چېرې داسې وکړي، په زرګونه ځوانان به مقررشي. اوسني ځوانان له نوې ټيکنالوجۍ سره اشنا دي او د کارکولو وړتيا او انرژي لري. که چېرې بې کاري همداسې روانه وي، نو حکومت به د تعليم يافته ځوانانو او يا ځوانانو له افلاس سره مخامخ شي او حکومت سره به محدود شمېر ځوانان پاتې شي.

په حکومت کې د بې کارۍ له امله هغه ځوانان چې په هند، امریکا او انګلستان او یا نورو هېوادونو کې زده کړې بشپړې کړي، هماڵته پاتې کېږي. دغه ډول حالت هم هېواد ته په زیان دی، ځکه په هغه ځوانانو ددې ملک سرمایه مصرف شوې، خو له انرژۍ او پوهې به یې نور خلک ګټه اخلي.

ژمن: میاشت مخکې یوه ټولپوښتنه شوې وه، چې د اوسني ګډحکومت څخه ۸۱٪ سلنه خلک ناراضه وو. اوسنی د ملي یووالي حکومت خپلې ټولې نیمګړتیاوې د مخکني ولسمشر حامد کرزي په دوره وراچوي. اوسني حکومت په تېرو ۱۹ میاشتو کې کوم داسې کار وکړ، چې ملت ته یې وړاندې کړي؟

صراف: د ځان د خلاصون لپاره دا ښه ټکی دی، چې اوسنی حکومت خپلې ټولې نیمګړتیاوې د کرزي په حکومت ورواچوي. کرزی په داسې وخت کې افغانستان ته هوايي راوستل شو، چې دلته هر څه له صفره شروع شول. کرزي سره د خپلو  ټولو نیمګړتیاوو، بیا هم ډېر کارونه وکړل. ادارې، پولیس، اردو او د افغانستان ټول بُنیادونه یې له صفره شروع کړل او په خپله دیارلس کلنه دوره کې یې یوه اداره جوړه کړه.

کرزي د زیاتو ادارو بنسټونه کېښودل. که په هغه بنسټونو کې ادراي فساد، ناسم خلک او نورې ستونزې وې، اوسني حکومت باید هغه له منځه وړی وای او دغه بنسټونه یې قوي کړي وو. د ملي یووالي حکومت خپله غټه ستونزه ده. که اشرف غني سره د نوښت کوم فکر و، هغه اوس نشي پلی کولی او یا په حکومت کې دننه داسې کړۍ شته، چې اوسنی حکومت پرمختګ ته نه پرېږدي.

بهرنیان هم نه غواړي، چې افغانستان کې دې یو قوي مرکزي حکومت وي او عام افغانان په خپل حکومت باور وکړي. که چېرې داسې حکومت راشي، نو بیا د بهرنیانو د پاتې کېدو کوم سوال نه پیدا کېږي. د اوسني حکومت نړیوال دوستان اوس نړۍ ته داسې ښیي، که چېرې موږ دلته نه یو، نو افغانستان به داسې حالت وي؛ خو دغه حالت خپله بهرنیانو راوستی دی.

اوسني حکومت ته ډېره غټه پروژه د «ټاپي» پروژده؛ خو وبه ګورو، چې دغه پروژده اوسنی حکومت مخته وړی شي او کنه؟ اوسنی حکومت دې خپلې نیمګړتیاوې په تېر حکومت نه وراچوي. دوی دې هم ملت ته د خپلو ۱۹ میاشتو حساب ورکړي، چې موږ دغه کار کړی؟

ژمن: استاده! اوسنی حکومت وايي، چې بهرنيانو له کرزي ډېر ملاتړ کوو او له موږ يې نه کوي. کرزی او اشرف غني امريکا، ناټو او متحدينو ته يې څه توپير لري، چې له کرزي يې ډېر ملاتړ کوو او له اشرف غني يې نه کوي؟

صراف: بهرنيانو ته اشرف غني او کرزی کوم توپير نه لري، بلکې خپلې ګټې ورته مهمې دي. کله چې امريکا راتله، نو افغانستان کې يې جګړه د القاعدې، طالبانو او ترهګرۍ سره د مبارزې پرضد وه او له دې لارو يې ځان افغانستان کې ځای کړ. د کرزي نه يې ډېر ملاتړ هم ددې لپاره کوو، چې هغه وخت يې ګټې دلته ډېرې مهمې وې او اوس يې څه نا څه خپلې ستراتيژيکې ګټې لاسته راوړې دي. امريکا اوس د جګړې لمن تر اوکراين، سورېې، عراق، يمن او ليبيا پورې ورسوله. په يادو هېوادونو کې يې هم جګړې ته بېلابېل عنوانونه ورکړي. د امريکا ګټې د اشرف غني په نسبت د کرزي په دوره کې څه ناڅه تر لاسه شوي. د کرزي په نسبت اشرف غني لويديځ ته ډېر ګټور دی، ځکه کرزي له امريکا سره تړون لاسليک نه کړ؛ خو اشرف غني لاسليک کړ. بل په فکري لحاظ هم اشرف غني لويديځ ته ډېر ګټور دی. امريکا له افغانستان او افغانانو سره کومه خواخوږي نه لري، بلکې خپلې ګټې ورته مهمې دي. امريکا اوس غواړي د جګړې لمن د منځنۍ اسيا هېوادونو ته وغځوي. د امريکا ستره موخه په چين کې د جګړې پيلول دي او په منځنۍ اسيا کې د جګړې د پيلولو لپاره به له افغانستانه د پُل په حيث کار واخلي او ددې جګړې ډېره قرباني به موږ ورکوو او لګيايو.

ژمن: جګړه ورځ تر بلې ګرمېږي. افغان دولت د سولې خبرې د طالبانو پرځای له پاکستان سره کوي. له بل لوري طالبان د سولې خبرې د افغان دولت پرځای له امريکا سره کوي. که چېرې سوله ونه شي او جګړه وغځېږي، افغنستان، افغانانو او زموږ راتلونکي ته به يې زيانونه څومره وي؟

صراف: طالبان بايد د تېرو مجاهدينو د تجربو نه ګټه واخلي. کله چې ډاکټر نجيب د سولې طرحه وړاندې کړه، داچې دغه طرحه چا او د کومې موخې لپاره ناکامه کړه، دا بېله خبره ده؛ خو د وروستيو حالتونو نه دا ښه وه، چې مجاهدينو له نجيب سره سوله کړې وای. مجاهدينو هم ويل، چې موږ له نجيب سره نه، بلکې له روسانو سره خبرې کوو. که چېرې مجاهدينو له نجيب سره خبرې کړې وای او يوه روغه جوړه

يې کړې وای، اوس به په دغه حالت کې نه وو. اوس طالبان هم وايي، چې افغان دولت سره خبرې نه کوو، افغان دولت بیا د طالبانو سره خبرې نه کوي. د سولې خبرې باید د افغانانو ترمنځ وشي، نه د نړۍ د نورو هېوادونو سره. افغانستان ته د نړۍ د جنګي ډلو مخه شوې ده او هره یوه ډله خپل اهداف لري. د نړۍ یو شمېر هېوادونه د افغانستان د تجزیې طرحه هم لري. د سولې عالي شورا کوم کار نه دی کړی، بلکې رسنیو ته خپل تبلیغات وړاندې کوي. کله د لسو کسانو د تسلیمیدو خبره کوي، کله د سلو. هغه خلکو سره هم «دره واله» وسله وي او قوارې یې یو جنګي کس ته نه پاتې کېږي. سوله کې باید دواړه لوري په ځینو برخو کې تنزول وکړي او سولې ته د زړه له اخلاصه کار وکړي. د سولې په برخه کې حکومت باید ډېره برخه واخلي. اوس امریکایان په خپلو بیسونو کې ناست دي، خو د جګړې دواړه خواوو ته افغانان مري. که کور ورانیږي، که اقتصاد ضعیفه کېږي او که در په دره کېږي، هغه ټول افغانان دي.

علامه اقبال وايي، «په ثانیو غفلت کلونه هم نه شي جبیره کولی» جګړه زموږ تعلیمي، پرمختیایي او ټولې خواوې په ټپه ودروي او زیان زموږ اوسني حالت ته هم دی او راتلونکي ته هم. افغانستان ته دې دواړه خواوې په ژور نظر وګوري او خبره دې د سولې له لارې حل کړي.

ژمن: طالبانو ته څه کول پکار دي؟

صراف: د طالبانو ادرس اوس معلوم دی او طالبان باید له افغان دولت سره خبرو ته کېني. افغاني ډیالوګ له امریکا، پاکستان او نورو هېوادونو څخه غوره دی. که چېرې طالبان راشي اوسنۍ زیاتې نیمګړتیاوې ورسره له منځه ځي. په دیني برخه زموږ زیات شکایتونه دي، کېدای شي طالبان هغه حل کړي. افغان دولت د سولې په برخه کې «اساسي قانون» سره کرښه ګرځولې؛ خو خپله پرې عمل نه کوي. زه بیا هم وايي، چې جګړه نوره زموږ په ګټه نه ده. طالبان باید د تېرو مجاهدینو تاریخ له سره مطالعه کړي او هغه نیمګړتیاوې دې نه تکراروي، چې مجاهدینو تکرار کړې.

ژمن: ډېره مننه استاده!

صراف: له تاسي هم!